اگـــــر دین خــــدا را نصرت دهـــيد خدا شــمـا را نصـــرت دهد و استوار دارد گامهاي تانرا
سوره محمد آیه ۷

شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریك مرکزی نشراتي ارگان

از حضرت عبدالله ابن مسعود «رض» روایت است که گفت : گفتم یا رسول الله «ص» کدام عمل در نزد خداوند «ج» محبوب تر است ؟ فرمود : اداي نماز در وقتش . گفتم : باز کدام ؟ فرمود : نیکي به پدر و مادر. گفتم : باز کدام ؟ فرمود : جهاد در راه خدا «ج» (متفق علیه)

دوهم کال نهمه گڼه پرله پسي (۵۹) | چهار شنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د حوت دمیاشتي (۱۵) | د ۱۹۹۷ میلادي کال مارچ (۵) | د ۱٤۱۷ هـ ق کال د شوال المکرم (۲٦)

بـــــادونه

ښايي ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چې دا ډول سپېڅلې پاڼې په ناوړو ځایونو کښې وغورځوي.

(اداره)

د کابل والي محترم ملا خیر الله "خیر خواه" له شریعت سره په مرکه کې

زموږ په دې خبره کلك باور دی چې خدای مو ناصر، تحریك مو سپېڅلی او ارمان مو مقدس دی

تولو ملي سوداګرو ته بلنه ورکوو چې د وطن په ابادی کې برخه واخلي

اسلامي دولت د مشورې اصل ته خاص اهتمام کوي

درنو او قدرمنو لوستونکو :

دا دي په دې ګڼه کې مــو د کــابل د حالاتو او امنيتي وضعي په هکله د کابل والي محترم مولوي خیر الله خیر خواه سره مرکه کړې ده چې په ګــډه بې لولو .

پوښتنه :محتـرم والي صـــاحب لطفـاً د خپلي زده کړې او جهـــادي سابقي په هکـــله معلومات راکړئ

ځـــواب : لومــړي زده کــړه مې د بلوچستان په مر کز کویټه کې کړېده وروسـتــه مې په پېښـور کې د حرکت انقلاب اسلامي په مربوط محمدیه مدرسه

کي دوه کـــــاله درس ووایه او د علمي فریضې ادا په خاطر مي یو کال په کوهاټ کي هم تیر کې

همدا راز په عملي جهاد کې مې ډېره

وتهه اخستې ده د دوبي په رخصتيو کې څو به معمولاً په جبهه کې ووم او کله به چې کندهار او نورو سیمو ته قوه راغلله هم د نورو مجاهدینو تر څنګ به طلوع مخ

د هیـــواد په بیلا بیـــلو برخــو کې له اسلامي دولــت سره د بیــــوستون غونډې جـــوړې شوې

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دې هفته غونډوکې چې له هندي امله د کب په اتمه د کابل ښار د پولیسو په نهمه حوزه کې د کب په لسمه د خوست ولایت د علیشیر په ولسوالي کې او د کونړ ولایت د صافیو د قوم لخوا د کب په دولسمه د

کونړ ولایت د ترګ په ولسوالي کې جوړې شوې وي د قومو مشرانو ، علماؤ سپین ږيرو او روحانیونو هر اړخیزي عالمانه وینا وکړې او د اسلامي دولت د حقانیت په پېوندلو سره یې د طالبانو له اسلامي تحریك او اسلامي دولت سره خپل بشپړ ملاتړ اعلان کړ .

په اساس هدايت محترم الحاج ملا محمد رباني رئيس شوراى سرپرست دولت اسلامي افغانستان كـــار ترميـــم و احـــياي مجدد تعمير رياست اداري وزارت عدليه دو باره آغاز يافت

خبر ګار آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : كار ترميم و احياي مجدد رياست اداري وزارت عدليه كه از چندي بدينسو معطل قرار داده شده بود اخيـــراً به اساس هدايت محترم الحاج مـــلا محمد رباني رئيس شوراي سرپرست

دولـــت اسلامي افغانستان توسط رياست دستگاه ساختمـــاني افغاني دو باره آغـــاز يافت .

په هیروئینو باندي دوه تنه روږدي کسان په دې وروستیو وختو کې د ارزګان په ولایت کې ونیول شول

له دغـو روږدو کسـانو نه یو کیلو ګرام هیروئین هم تر لاسه شویدي او هغوي قانوني مرجع ته سپارل شویدي .

د افغـــانستان د اســـلامي دولت د اطـــلاعـــاتو او كـــلتور وزارت سر پرست محـــترم ملا امــــير خـــان متـــقي د پـــاكستان د عـــالمانو له هيأت سره وكتل

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ په دې کتنه کې مولانا زاهد الراشدي د پاکستان د عالمانو د هیئت په نمایندګي د روسانو د اشغالګر پوځ او په هغوي پورې د تړلو

رژیمونو پر خلاف د اسلامي مقدس جهاد په دوران کې د افغانستان له مسلمانو او دیندارو خلکو سره د پاکستان د عالمانو د تنګي او ملاتړ یادونه وکړه او یو ځل بیا یې د اسلامي

دولت دستړو د ټینګښت، د محمدي غرا شریعت د نافذولو او په هیواد کې د سولې او امنیت د ټینګښت په اړه د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ څرګند کړ طلوع مخ

د «بـــك» مؤسسې يوې مشرى استـــازې د اطلاعاتو او كلتور وزارت مالي او اداري معين محترم الحـــاج مولوي عبدالرحمن احمـــد «هوتكي» سره وكـــتل

په دې کتنه کې چې د شـــریعت اوونیزې په دفتر کې تر سره شوه ملي او کلتوري مسایلو لکه موزیم،تاریخي ابدات ، ملي ارشیف او ګالري د بیا

احیــا ، وده او ساتنې په هکله دواړو خواو خپل نظر څرګند کړ. په خبر کې ویل شویدي چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت مـــالي او اداري طلوع مخ

له كابل سره د پروان ولايت مخابروي ارتباط تامين شو

د باختر اطلاعـــاتي آژانس خـــبر راکړ، د مخـــابراتو وزارت د انجنرانو د هڅو او هاند له امله په دې وروستیـــو وختو کــــې له مرکز سره د پروان ولایت مخـــابروي ارتبـــاط تامین شویدي .

په خبر کې ویل شـــویدي چې همدا راز د پکتیـــکــــا ولایت د مخابروي ستونزو د لرې کـــــولو په خاطر یو سل لینه سوچبورډ دغـــــه ولایت ته لیږل شـــوي چې په نږدې راتلـــونکي کې به فعــــال شي .

قابل توجه علاقمندان شعر وادب

اداره هفته نامه شریعت در نظر دارد تا با آمـدن فـصـل بهـار (۱۳۷٦) که الحمد لله امسال بسا شګوفه هاي امید را باز نموده و نکهت نسیم آن هنوز خوشبو تر میشود محفل با شکوهي «مشاعره» ترتیب دهد بنا در داخل و خارج از کشور از تمام علاقمندان شعر و ادب احترامانه دعوت به عمل آورده تا با شرکت خود این محفل ادبي را رونق بیشتر بخشند .

آدرس: کابل – وزیر اکبر خان سرک ۱۱ خانه ۵۲۰

وقت : اول حمل ۱۳۷٦

د مـــرکز د محـــکمو د اداري منـــوبينو غـــونډه د ســـتري محـــكمي په مقــر كـــي جـــوړه

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په غونډه کي له هغه وروسته چې د کلام الله مجید څو ایتونه ولوستل شول د قاضي القضات مرستیال

او د ستري محکمي کفیل محترم مولوي عبدالستار صدیقي د قضا د قدسیت او خلکو او ټولني ته د خدمت د طلوع مخ

در نتيجه عمليات تصفيوي به صد ها ميل اسلحه ثقيل و خفـــيف بدست نيـــرو هاي اردوي اســـلامي افتـــيد

در نتیجه عملیات تصفیوي تیرو هاي اردوي دولت اسلامي افغانستان ، که بتاریخ هاي ۸ الي ۱۳ برج جاري در ولایات : لغمان، کنر، ننگرهار، پکتـــیـــا ، کابل، پروان، وردك، کاپیسا ، لوگر و غور صورت گرفت، در نتیجه ، صد ها میـــل سلاح ثـقـیـل و خـفـیـف بدست نیرو هـــاي اردوي اسلامي افتـــيد که ارقام آن چـــنین نشـــان داده شده است :

توپ ۸۲ و ۷۵ م.م ۱۸ ضرب ، راکت بلو پایپ یك دستگاه، راکت رهبري شده زمین به هوا از نوع ستریلادو، یك دستگاه ، ماشیندار ثقیل ۳۵ میل ، ماشیندار خفیف ۳۷ میل، ماشیندار گرینوف ۳ میل ، ماشیندار اشتنګن ٤ میل، ماشیندار پیکا ۵ میل، دهشکه ۱۱ میل ص(٤)

دوستم د روسانو پيداوار او د انگريزي شرابو ډير شوقي دی

د لندن تايمز مجلي خبريال "كرستوفر تهامس"

په پیښور کې خپرېدونکې پښتو «وحدت» ورځپاڼي په خپلې د کب د میاشتي دوولسمي ۱۳۷۵ هـ ش ، دمارچ لومړي ۱۹۹۷ کال ګڼه کې د لندن ټایمز انګریزي مجلي د فبروري د ۲۷ – ۱۹۹۷ کال د ګڼې هغه رپوټ چې

د دې مجلي خبریال «کرستوفر تهامس» تیار کړیدي نقلاً را اخستې دي چې د شریعت اوونیزې محترمو لوستونکو ته یې وړاندې کوو.

د ټول افغانستان په نیولو کې طالبانو ته پرازیني خبرو یو داسې فوځي جنرال دي

چې شراب یې ډېر خوښ دي او په هره خبره کې خاندي .

دوستم د اتو مچـــیو پلار دی او دانګریزي شرابو ډېر شوق لري، دوستم که څه هم د قوي جسم خاوند دی خو بیا هم د طالبانو له متوقع ورتګ نه په طلوع مخ

كميته صليب سرخ به تعــداد ٤ سيت جين وسطــي پانزده هزار كيـــلو وات را بــه ريــاست برق كابل مساعدت نموده است

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : به منظور رفع موانع و مشکلاتي که در عرصـه امور برق رساني موجود است کمیته صلیب سرخ بین المللي به تعداد ٤ سیت جین وسطي پانزده هزار کلیو وات را که قیمت مجموعي آن مبلغ هفت ملیون افغاني میشود به ریاست برق کابل مساعدت نموده است که از سوي مسوولین وزارت آب و برق با اظهار سپاس پذیرفته شد .

ما از خواهران مهاجر افغاني که در رشته طبابت دسترسي دارند، خواستيم كه غرض خدمت به هموطنان محـــتاج شان، به كشور خـــويش باز گردند

خبر مطالبه برسميت شناختن دولت اسلامي از امريكا عاري از حقيقت ميباشد

مولوي وكيل احمد «متوكل»

هیئت دولت اسلامي افغانستان که چندي قبل به ریاست محترم مولوي وکیل احمد «متوکل» به ایالات متحده امریکا سـفـر نمـوده بودند، دو باره به وطن برگشتند.

محتـرم «متـوکل» در رابطه به اهداف سفر خویش چنین گفت: هدف از سفر ما این بود تا واضـح سازیم که طالبان فرزندان مخلص کشور ما، افغانستان مـیـباشند و شایعاتیکه از حلقه هاي مختلف به ضد آنها

براه انداخته شده است عاري از حقیقت میباشد

وي گـفـت: مـا در امـریکا با خـواهران دکتورس افغان صحبت داشتیم و از آنها دعوت به عمل آوردیم؛ تا به کشور خویش برگردند و در رشته، خویش هموطنان محتاج شان را یاري

نماید.

محتـرم «متـــوکل» در پـــاسخ یك سوال گـفـتـند ما مطـالبه به رسمیت شنـاختـن دولت اسلامي را از امریکا نکرده ایم و خبر هاي منتشره به این ارتـــبـــاط عـــاري از حقـیـقـت میبـــاشد .

پــروژه انكـــشافي وادي ننـــگرهار مبـــلغ هنگفت از درك محصـــولات خـــويش به دســـت آورد

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد: پروژه انکشافي وادي ننگرهار طـــي چار ماه اخیر سال جاري مبلغ هفـت صد ملیون و هشت صدو سي و یك هزار و چـــار صدو هشتاد افغـــاني را

از درك فروش محـصـولات خویش عـاید بدست آورده است عـــایـد پروژه مـذکـــور که تحویل بانك ننگرهار گـــردیده، نسبت به سال گذشته چار چند افزودي را نشـــان میدهد .

هند د ۷۳ ميليونو كوچنيو كاركرو په لرلو سره چې په غير انساني شرايطو كې كار كوي په لومړي كـــتار كې دی

د نړیوالو خبري سرچینو د خبر له مخې په هغه رپوټ کې چې د ماشومانو د وجهي صندوق یا یونیسف له خوا خپور شو ویل شویدي چې هند د دري او یا

ملیونو ماشومانو کارګرانو په لرلو سره چې په غیر انساني شرایطو کې کار کوي په نړۍ کې په لومړي کتار کې دي .

طلوع مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د امن پسرلی

الله تعالي ته په کروړونو او لکونو شکرونه او هغومره حمد او ستاینې وړاندي کوو چې د ځمکو، اسمانونو او د هغو تر منځ له پیمانې نه هم زیات وي په دې چې په دانو لسو کلونو کي راتلونکي پسرلي هغه بوازيني د امن پسرلي دي چې د هغه په تلوسه کي د افغانستان مسلمانانو ډیر ارمانونه ګور ته یوړل (انا لله و انا ...)

سږ کال ځمې که څه هم زموږ هیوادوالو د پخوا په شان لوږه، ساړه او نوري ستونزې وګاللي مګر دا توپیر هم چې (الحمد لله) په اکثره افغانستان کي غله، بدماشان او خداي ناترسه ټوپکیان نه وو د هیوادوالو غوږونه له دوي نه اود دوي له بې ځایه د ژواو راکښونو نه ارام وو.

راتلونکي پسرلي هغه د امن پسرلي دي چې هیوادوالو په زړونو کي پټهي پټهي هیلي او تلوسي ورته خوندي کړې وي او د هغه په رارسیدلو به یې د امیدونو غوټي راوسپړېږي انشاء الله تعالي .

د خلکو داسي عادت دي چې دخوښي شپې ورځي په میلو او غورزو پرزو سره لمانځي مګر زموږ دیندار هیواد وال به یې په شکرونو، عبادتونو ختمونو او خیراتونو سره لمانځي، ځکه چې یو خو د ایمان او مسلماني غوښتنه همداسي ده او بل زموږ د غم ځپلو هیواد والو په هر کور کي د ویر او فاتحې ټغر له کلونو را هیسې غوړېدلي دي د هر کور ګران غړي یا د الله تعالي په لاره کي په سنګر کي او یا د ظالمانو په را کښونو پخپل

(۲مخ)

شفاخانه (۲۵۰) بستر ولادي و نسائي «رابعه بلخي»، طي مراسمي مجـــدداً افتـــتاح و مورد استفاده نيازمندان قـــرار گرفت

خبر نگار آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد: در مراسـمي که به همـین مناسبت در آن شفاخانه تدویر گردیده

بود ، بعـد از آنکه آیات چند از قـرآن عظیم الشان قرائت گردید، محتـرم عبدالستار «پکتیس» معین سرپرست

وزارت صحت عـامه، طي صحبتي از سعي و تلاش خستگي نا پذیر مسوولین آن شفاخانه که در احیاي مجدد ص (٤)

در حادثه يك قطـــار آهن در پاكـــستان، حدود يكصدو بيست و يك مـــسافر جـــان خـــود را از دست دادند

طبق گزارش آژانس خبري دي پي اي، اسلام آباد، در اثر حادثه یك قطار آهن که در شرق پاکستان رخداد، دست کم یکصدو بیست و یك مســـافر هلاك و هفتاد و پنج تن دیـــګر مجروح شــدند، که وضـــع بیست و چـــار تن آنــــها وخیـــم است .

منبع مذکور افزود: نیرو هاي شبه نظامي فرا خوانده شده تا در عملیات نجات کمك کنند . این فاجعه در قطار آهن سریع السیر «ذوالفقار» زماني رخداد که انجن آن از کار باز مانده بود . به قول مامورین پولیس عملیات نجات جریان دارد و مجروحین به شفـــاخانه هاي شهرك «خانیوال» و شهر بزرگ مجاور آن «ملتان» انتـــقال داده شـــدند .

سنگ تهداب ديوار استنادي و تحكيمي درياي پل سوخته كابل گذاشته شد

آژانس اطلاعاتي باختـر خـبر داد : در مراسـمي که به همین مناسبت تدویر یافته بود ، در حالیکه محترم مولوي عبدالمجید شاروال کابل ، معینان پلان و مالي شاروالي و آقاي وګریك ولشن رئیس موسسه هبیتات و جمع کثیري از اهالي آن جا حاضر بودند، ابتدا چند آیت از کلام الله مجید قرائت شد، سپس محترم انجنیر راز محمد «وراي» معین ساختماني شاروالي کابل، پیرامون ضرورت

اعمار دیوار مذکور به تفصیل صحبت نمود . یك منبع مسوول به آژانس اطلاعاتي باختر گفت : دیوار مذکور که دو صدو نود متر طول ، یکنیم متر عرض و سه متر ارتفاع دارد، به کمك مالي موسسه هبیتات بصورت پخته و اساسي اعمـــار میگردد؛ با اعمار دیوار استنادي مذکور، صـــدها منزل رهایشي در آن ساحه از خطرات سیـــلاب و آب خیزي محـــفوظ خـــواهد ماند .

تعمير مكتـــب متوسطه قصبه شهر جلال آباد، اخيراً طي مراسمي افتتـــاح و مـــورد استـــفاده شـــاگردان قـــرار گـــرفت

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد: در محـفلیکه به همین مناسبت دایر گردیده بود، ابتدا آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید، سپس محترم مولوي عبدالسمیع رئیس تعلیم و تربیه آن ولایت پیرامون نقش

تعلیم و تربیه در جامـعـه اسلامي و وظایف مکلفیت هاي مســوولین و معلمین تعلیم و تربیه صحبت نمود . در اخیر محترم عبدالکبیر والي ننگرهار و رئیس تنظیمـــه زون شـرق، راجع به تصامیم دولت اسلامي افغانستان در رابطه به مساعد ساختن زمینه هاي بهتر

تعلیم و تربیـه، براي اولاد وطن صحبت نموده وظایف و مکلفیت هاي دست اندر کــاران تعلیم و تربیـه در آن ولایت را مشخص ساخت . مکتب مذکور داراي هفت اطاق درسي بوده که به کمك مالي موسسه آر.دي، پي اعمار گردیده است .

براى دولت اسلامي ما تأمين وحدت ملي و اقامه، حكومت واحد مركزي نسبت به سايرمسايل از اولويت خاص برخوردار ميباشد

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤل مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتکي»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۲۰۰) افغانۍ
په پاکستان کې (۲) کلدارې
پته : کابل وزیراکبر خان مینه / سرک۱۱/ کور (۲۰ه)
تیلفون : ۲۱۲۸۱ - توزیع و شکایات ۱۲۸۵۹
پوست بکس : (٤۷۱)
په پېښور کې : دطالبانو نمایندګي/ تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۳۷

د سرمقالې پاڼې

کور او کوڅه کې د شهادت مقام ته رسیدلي دي « انا لله و انا ...»؛
سبا ته چې په پسرلي کې د نازولو او په الله تعالی ګرانو شهیدانو «رح» له قبرونو څخه په وینو لړلي خاپولان دا وهوکیږي نو له ځانه سره به یې د هغوي داسې پیغامونه راوړي وي : « پر موږ باندې د معمولي شاتنه مړو ګومان مه کوئ، موږ د الله تعالی په وړاندې ژوندي یو روزي راکوله کیږي ، په هغه څه چې الله تعالی پخپل فضل دلته موږ ته راکړي دي سخت خوشاله یو او د تاسي راتلونکي ته سخت سنه امیدونه لرو. د الله تعالی په نعمتونو او فضل باندې ډیر زیات خوشاله یو او په دې خبره هم زیات خوشاله یو چې (بې له کوم شك او تردید څخه) الله تعالی د مؤمنانو اجر او ثواب نه ضائع کوي»
دا خو د دین او ایمان غوښتني دي؛
ګرانو هیواد والو!
څنګه چې موږ په دغه دنیا کې د عبادت لپاره ژوند کوو نو د ژوند لپاره به هم کار کوو تر څو عبادت وکړای شو له دې امله هغه د دنیا کارونه چې د عبادت لپاره ذریعه او سبب ګرزي او په شرعي طریقه وکړل شي هغه هم په عبادت شمیرل کیږي ؛
تاسې خپل نامتو هیواد وینئ چې څرنګه ظالمانو او کافرانو په دا تردي شلو کلونو کې راته وران ویجاړ او کنډواله کړي دي ؟ نو که پخپله همت او غیرت ونه کړو او د خپل هیواد بیا ودانولو ته کلکه ملاونه تړو، لاسونه تیاکې، پښې چاودې او خولې تویې نه کړو، نو څوك به دغه کار راته وکړي ؟ هیڅوك !
د دنیا کافران ډیرې پیسې او وسائل لري خو زموږ په خدمت کې به یې هغه وخت په کار اچوي چې د دوي غلامي ومنو او نعوذ بالله تعالی - له ناموس او اسلام نه تیر شو، خپلې پتمنې خویندې میندې دوي ته بر بنډې کړو او بو ځای یې په کرسیو او محفلونو کې ورسره کینوو، دا واړه هغه څه دي چې زموږ ایمان، اسلام او غیرت یې هیڅ منلی نه شي او د هغه لپاره موږ سرونو دومره لوبه بیه ورکړې ده چې هیڅوك یې شمار نه شي کولای ، له همدې امله دوي د افغانستان اسلامي دولت ته پخپله په رسمیت پیژني او نه خپلو ګوډاګیانو ته ددغه کار اجازه ورکوي.
زموږ بوازیني لاره دا ده چې کلکه ملا وتړو او د دښمنانو په تمه، زیږ، زیښلي او لاس ترزني ناست ونه او سو، غیرت دا دي چې زموږ له لاسه نوروته روزي ورسیږي نه دا چې تر مرګه به د پردي راشن او کومکونو په تمه ناست یو، راځئ چې په لکونو نیالګي کیږدو او په سوونو جریبه زمکې وکرو په افغانستان کې چې اوس - الحمد لله - شرعي احکام نافذ شوي دي د برکتونو را مخه شوي ده ، افغانستان د کرهنې او مالداري هیواد دي او زموږ د ملي اقتصاد اصلي پایې هم دغه دوه دي، تر کومه حده پورې چې زموږ په لاس کې د کرهنې موجود وسایل دي هغه به په کار اچوو، تر کومه ځایه پورې چې د اسلامي دولت مسؤولیت دي زموږ باور دي چې تروسه وسه پورې به د هر راز وسایلو په برابرولو کې هلې ځلې کوي او دا هلې ځلې به د پخوانیو رژیمو نو هلې ځلې نه وي چې د څوکي له سر نه به نه خوځیدل په مکتوب او تیلفون باندې به یې غوښتل چې هر څه وکړي، بلکي دغه به عملي هلې ځلې او د پښو منډې وي انشا ء الله تعالی؛
بل زیري به دغه درباندې وکړو چې افغانستان د زمکنیو زیرمو او کانونو له پلوه شه بډای دي الحمد لله او له هغو نه دګټې اخستلو لپاره لا پخوا منډې رامنډې پیل شوي دي که د هغو لپاره کافي وسایل برابر شي هغه ورځ لرې نه ده چې زموږ هیواد به هم یو پر مخ تللي هیواد شي، انشا ء الله تعالی
راتلونکي د امن پسرلي دې ټولو هیواد والو او زموږ خوا خوږو نورو مسلمانانو ته بختور وي.

د افغانستان د موزیمونو لوټماران

د محترم ورور «ص ك» د لیکني له هر ټکي سره د شریعت د اوونیزې موافقه ضرور نده خو باید ووایو چې د استعمار دا عادت دي چې په نورو ګاونډیو د تیري په وخت کې د هغه هیواد د ملي او تاریخي هویت د مسخ کولو لپاره یې ملي ، کلتوري او تاریخي ټول اثار لوټوي، په افغانستان د روسانو د تیري او یرغل په وخت کې زموږ کلتوري ملي او تاریخي اثارو هم خپل مصؤنیت له لاسه ورکړ او په ډیره پیمانه روسانو لوټ کړل، کمونستانو هم (خصوصاً د امین په توره دوره کې) د ملي موزیم اثار چور کړل .
او د نجیب د حکومت تر سقوط وروسته څنو پروتوکولي، ائتلافي او مجاهد نما ډ لو لخواد کمونستانو په لمسون او د دوي پواسطه دي کار ته ددې ډلو تشویقولو په اثر تقریباً هر څه له منځه وېوړل شول، رښتوني مجاهدینو چې د هجرت او جهاد په محیط کې روزل شوي او ددې شیانو په مادي ارزښت هم چندان نه پوهیدل هیڅکله دا کار نه دي کړي . او دا هم حقیقت دي چې د جنوب ختیځ په څیر په نورو ولایاتو کي هم چې متأسفانه څنې یې اوس هم د شر او فساد د اداري تر کنټرول لاندي دي ملي او کلتوري آثار په ډیره پیمانه غلا شوي دي .

اداره

د نجیب حکومت د رانسکوریدو نه وروسته کابل کې د ملیاردونو ډالرو په ارزښت د موزیم قیمتي او تاریخي اثار قصداً لوټ شول. پدې کي تقریباً (۲۰۰۰) د سرو زرو سکي، تاریخي نسخې قیمتي لوښي او د لرغوني زماني انسانانو د ژوندانه او وسایلو نمونې او داسې نور شیان شامل دي .
همدا رنګه د ننګرهار ولایت د هډې شکلي موزیم هم لوټ شوي چه زیات لرغوني اثاریې د پیښور د اندر شهر بازار او نورو مارکیټوکي وپلورل شول .
د هډې په غونډیو کې د ننګرهار جهادي شورا مربوط څو قوماندانانو هلته دوه جنراتوروونه لګولي ؤ او څو میاشتي ئې د هډې ډیر تاریخي آثار د هغه ځایه وویستل او پاکستان ته ئې د خرڅولو د پاره ولیږل .
د نومبر د میاشتې په وروستي اونۍ کې د هډې د پخواني موزیم دري صندوقونه چه بوتان په کې وو د خیبر دري د میچنی تانې مسرلینو نیولي ؤ چه د څه لانجې او رشوت نه وروسته خوشي شول .
د هډې د موزیم او نورو ځایونو بوتان د حاجي قدیر د ولایت په دوران کې د ننګرهار ښار په یوه سراي کې خرڅیده چه پدې سراي کې داخلي او خارجي سوداګر میشته وو د څو خارجي سوداګرو د سیمه ایزه واکمنانو سره لاسونه یو کړي ؤ د حاجي قدیر په دوران کې چه د ملت په درد دردمند ؤ !! په حصارك ، خوګیانیو ، سره رود ، هډه ، دووبابا ، چپن ، هسکې مینې او کوټ په دروکي ، په ورځني مزدورۍ د کیندلو لپاره خلك استخدام کیدل .
د ډیرو پخوا وختونو څخه د هډې په شاو خوا کې بوتان موندل کیده مګر د ظاهر شاه په وخت کې یوه پراخه سیمه د اغزي لرونکي سیم په مینځ کې محاصره شوه او بیا وروباندې کار پیل شو. د کیندلو په لړکې د (۷۰۰۰) کلن ګندهارا تمدن آثار وموندل شول پدې لړکې یو غټ بت چه دواړه خواوته ئې یوه یوه سنجه ناسته وه . بو ټولګې خلك چې یو تن ورته خبري کولي وموندل شول .
او دوه داسې نور بوتان وموندل شول چې ګر چا پیره غاړې ئې د سرو زرو څخه جوړي شوي وي .
همدا راز د کیندلو په دوران کې د خاورو لاندې یو لوي سالون او څو وړې کوټې هم وموندل شوي چې په چشو کې ئې بوتان ایښودل شوي ؤ .
خو په تیر دور کي ددي ځاي ګرد چاپیره کوچني غونډۍ ګانوکې د غیر فني او انفرادي اشخاصو لخوا کیندني پیل شوي او ټول آثار ئې لوټ کړای شول چه البته د کیندلو په وخت کې په سلوکې اویا بوتان خرابیدل . دوي خپلې ټولې کیندنې د کاغذي نقشو له مخې کولې چه په ګمنې ځایو کې خارجي سوداګرو او پاکستاني انجنرانو رهنمایي کول .
یو بهرني سوداګر چې په جلال آباد کي بوتان اخیستل او دا کارئې ډیر ګټور باله وویل « موږ په یوه باندنۍ ملك کي ددې تاریخي اثارو د پلورلو او پیرلو لپاره دفتر لرو هغې دفتر ته د هري سیمې په باره کې بشپړ معلومات راځي بیا د یوه کتاب په بڼه موږ ته راکول کیږي او د هغې په اساس کیندنې کوو .
د مرغومي په میاشت کې یو نسکو اعلان وکړ چې موږ غواړو د کابل ملي موزیم بیرته جوړ کړو او د هغوي د سیمې قوماندانانو سره هم خبري کړي وې چه د موزیم ګرد چاپیره دیوالونه د خپونه جوړ شي او په سوریو او کړکیوکې هم څټي وتپل شي . دا یو نیك کار ؤ مګر د خواشیني خبره دا ده چې د موزیم معیاري ارزښت هغو توکو کې پروت ؤ کوم چې د زماني د پیښو ، د انسانیت د مهذبیتونو او د خلکو د اجتماعي روابطو اسرار یکې ځاي په ځاي شوي دي د کابل موزیم لدې اړخه تر ۱۳۷۰ هـ ش کاله پورې د دنیا د غني موزیمونو په قطار کې راتله او اوس د ټولي نړۍ نه فقیر موزیم ګڼل کیږي .د افغانستان ملي موزیم په نړۍ کې یوولسم مقام درلود مګر په هغه کې ځینې داسې نایابه او قیمتي آثار موجود و چې ټوله دنیا کې یې ساری نه درلود .
زه پدې خبره باور لرم چه کوم غټه ملي، فرهنګي، تاریخي او مادي شتمني چې افغانانو د ۱۹۷۸ کال نه را پدیخوا تر نن ورځ پورې د لاسه ورکړې هغه شتمني د کابل موزیم نایابه آثار دي .
د ۱۳۷۱ هجري لمریز کال د مرغومي په میاشت د وسله والو داړه ماراتو لخوا په رڼا ورځ د موزیم څخه ټول قیمتي شیان را ټول او پدې بهانه یې یوړل چې موږ غواړو دا آثار په یوه امنیتي سیمه کې خوندي کړو څو د همدي ورځې په سبا د موزیم دیوالونه او ودانۍ په راکټونو وویشتل شول او اعلان وشو چې د کابل د ملي موزیم قیمتي آثار د جګړې له امله د خاورو سره خاورې شول . چه دا پلان ددي موزیم لپاره د ګاونډیو هیوادو دسیسه وه . د شیعه ولي یو تن مشر عبدالعلي مزاري د موزیم او د ریاست جمهوري د قلمي اسنادو د اساس کتابونه وسوځول تر څو په راتلونکې کې افغانستان نه هیڅ کوم سند پاتې نشي چه همانغسې وشول ...
په کابل کې ربانی او نورو واکمنانو د خپلو نړۍ والو انهوالانو د خوښې او کابل ته د سفر په بدله کې هغوي ته داسې قیمتي توکي په سوغات کي ورکړي دي چې افغانانو ته ئې زیات ارزښت درلوده پدې کې د افغانستان د پخوانیو شاهانو د واکداري د وخت ډیرقیمتي شیان شامل دي .
د ۱۳۷۱ د چنګاښ په میاشت کي یوه بهرني هیواد دریوو ژورنالستانو ته دنده ورکړې وه چه د امان الله خان شخصي موټر د پیسو په بدله کي د واکمنانو نه واخلي ددې موټر وروستی بیه ۵۰۰۰ امریکایي ډالره ټاکل شوي وه . د افغانستان د موزیمونو غلا شوي او پلورل شوي آثار د خرڅلاو بازار ته وړاندي شوي ندي مګر په ۱۳۷۲ کال کي د هډې د موزیم دوه د بودا د مذهب د رسمونو یوري لرلي بتان د امریکې په یوه ننداړتون کي وموندل شول چه دا بتان جاپانیانو په ۱۹۸۷ کال کې پیښور کي اخیستي و .
د کابل د موزیم لرغوني او با ارزښت اثار د نوي ډهلي د پخوانیو اثارو په یوه مارکیټ کي لیدل شوي او د پیښور د اندرشهر بازار د افغاني لرغوني اثار و څخه ډك ؤ . د پکتیا میرزکه کې چې د سید کرم په ولسوالي کې یوه غرني او زراعتي سیمه ده هم لویه خزانه وموندل شوه د میرزکي قدرتمندو محلي واکمنو او قوماندانانو ددي دولتي سیمې په کیندنو پیل وکړ دا خزانه په هندي تمدن پورې اړه لري او د یوه پخواني ښار نه چې زرګونه کاله مخکې د خاورو لاندې شوي د وسلوال افرادو او د سیمې اوسیدونکو لخوا یې بوتان او د لرغوني شیان بې سیستل شول او د هیواد نه بهر بازارونو کې په ډیره کمه بیه و پلورل شول .
اسوې ځل دلته د یوي لویې چینې په خوله کې د دري ګزه کیندلو نه وروسته د سرو زرو ګوټي ، بوتان، کاسې، چرګان ، آسونه، لوښي او ګاڼه کې وموندل شول. پدې وخت کې د لاهور د ښار نه یو هلندو د خپلو استازو په وسیله دغې سیمې ته پنځه کتابونه اوڅلور لرغون پیژندونکي واستول.
پدې کتابونو کې د میرزکي د ټولو کانونو او ځمکې لاندې ذخیرو په باره کې معلومات را ټول شوي وو د کتاب له مخې خلکو د یوي لوي چینې کیندل پیل کړل د نهومترو په فاصله کې کیندونکو ته یو کوچنۍ ښار مخې ته ورغلي چې ټولې کرڼې د هیکل په بڼه جوړې شوي او د یوي کوټې نه بلې ته د تللو لپاره دغشي په شکل اشاره ورکړل شوي وه .
د ښار یوه دروازه په میرزکه، بله په سپهرکنډو او دریمه ئې د ملنګکلو په دره کې وه دا ښار یو جنګي چوني نه ورانه جوړ شوي .
کوم شیان چه دلته وموندل شول عبارت دي له تروي ، بیشقبزي، چاقوګان، اروند، تبرګي، د آسونو زینونه، د اسونو د تعلیم میدانونه د زغرو جالونه او داسې نور فلزي شیان .
د همدي ښارګوټي په بله برخه کي هم د هندي تمدن آثار کشف شوي چې دري زره او سل کاله تاریخچه لري پدې کي د هندوانو یو معبد جوړ شوي چې ګرد چاپیره ور څخه پرولس بتان راناو شوي دي . لري تخت چې تقریباً ۹۰ سانتي متر اوږدوالي او ۲۲ سانتي متر سور لري چه د بت ځینې برخې په سرو زرو شکل شوي دي .
همدارنګه د درنمي بت نه ٤۰ متره وړاندې د سرو زرو خښتي موندل شوي چه یوه خښته یې ۲۵ کیلو ګرم وزن درلوده .
پدې ځای کې د سرو زرو څخه جوړ شوي دیګي، کاسې او ځلونه موندل شوي او یوه داسې سوراۍ هم وموندل شو چه د پنځه زرو کالو مخکې انساني میناتوري د فن پراخې نمونه ده دا سوراۍ په لاهور کې یو پاکستاني سوداګر اخیستي او په یوه انګلیسي تجار باندې په سل ګونو زرو پونډو پلورلي ده ، په همدي ښار کې د انسانانو داسې قبرونه موندل شوي چې اوږدوالي یې څلور متره دي د سرو شریو انسانانو یوه یوه ګوته د نننیو انسانانو د مروند په اندازه ده .
د موزیم جوړول یعني د لرغونو اثارو ټولول د احمد شاه بابا په وخت کې پیل شول لومړي د بارکزو یوه مشر نصر الله خان ته دنده ورکړه چې د لرغوني زمانو اثار د خلکو نه په بیه واخلي او کوم شیان چې دربارته د عوامو له خوا سوغات راوړل کیږي ټول په یوه ځای کې د موزیم په شکل برابر کړي .. د ۱۷۹٤ م کال په شا خوا کې د افغانستان پاچا شازمان یو جام موزیم ته وسپارلو چې د سلف تمدن نمونه وه د جام نه ګرد چاپیره تاوشوي لیك د سرو زرو وې. کله چې حبیب الله خان پاچا شو هغه د باغ بالا په ودانۍ کي په رسمي توګه د موزیم برانسته وکړه او غلام محي الدین خان د موزیم رئیس وټاکل شو . حبیب الله خان د کوهستان د سیمي نه دري د سرو زرو تکري او یو وښي د سیمي د سپین ویرونه د سوغات په توګه ډالۍ ؤ چه بالاخره د موزیم مال شو .
د امان الله خان په زمانه کي د وزارت په چوکاټ کي یوه اندازه پیسي ښلي شوي او پاچا امر وکړ چې د خلکو نه لرغوني تا پیژندل شوي او پیژندل شوي شیان په نقدو پیسو واخلي چې پدې لړکې د سرو زرو یو شمیر سکې، خطي نسخې ، د پخوانیو وختونو ځینې او داسې نور شیان را ټول شول او بیا امان الله خان د دار الامان د ماڼۍ په څنګ کې د افغانستان د ملي موزیم د مستقلې ودانۍ د جوړوښې امر وکړ .
د نادر خان د واکمنۍ په دوران کې د تکاب ، کوهستان غزنی بامیانو او کابل د سرنجان د نږي څخه ډیر قیمتي او لرغوني اثار لاس ته راغلل دا پلټنې تر ۱۹۷۸ کال اپریل پورې روانې وي. خصوصاً د ۱۹۵۰ کال څخه را پدیخوا د افغانستان د ملي موزیم په کمیت او کیفیت دواړو کې پوره بدلون راغلی .
څیړونکو او محققینو کولای شول ډیرې لاینحل پوښتنې د ملي موزیم د لارې حل کړي دا چې داخلي لوټماراتو او د پردیو غلامانو دا هر څه چور کړي بوالحیښي لاره نې دا ده چې یو نسکو داسلامي دولت په مرسته د افغاني اسنادو څخه په استفاده د هغوي راټولولو ته اقدام وکړي ؛
که چیري چا نیشولي، چا پلورلي او یا سوغات ورکړي وي په هر شکل او بڼه دا د ګران افغانستان د ټول ملت مشترك مال، تاریخي پښتوانه فرهنګي او کلتوري شتمني ده او بوا ځي او بوا ځي په افغان ولس پورې اړه لري.

ستاسو لیکونه زموږ ځوابونه

له شریعت اوونیزې سره همکارۍ ځان لپاره ویاړ بولم

د شریعت د اوونیزې قدرمن او محترم مسؤل مدیر صاحب

سلامونه ، احترامونه نیکې هیلې او سې بریالي اوسئ زموږ هم شکر ښه یو .
پرزوینې په سنه ګډون کې تاسو ته وړاندې کړم
السلام علیکم و رحمة الله و برکاته
خښتن تعالی مو روغ جوړ او په خپلو پرلو درسپارل شوېو دندو کې بشپړ
فاضل مدیر صاحب ! ستاسې د شکلي اوونیزې سره قلمي ګډون د ځان لپاره لوي ویاړ بولم له همدې خاطره مې مخکې هم د مجاهد طالبه شهید طالبه تر عنوان لاندې مضامین درلیږلي او هغه خپاره شوي فعلاً بیا یو مضمون د مسؤل طالبه تر عنوان لاندې له یو قطعي شعر سره درلیږم هیله ده په نشر کولو سره بې موږ نور هم د خپل احسان مرهون وګرځوئ .
په اخیر کې مو د لا بریالیتوب په هیله
مننه او پرزوینه
ستاسې ورور عبدالرحیم ثاقب
د ننګرهار پوهنتون رئیس محترم او قدرمن ورور عبدالرحیم « ثاقب»
زموږ له اړخه هم نیکې هیلې او سلامونه ومنئ؛
دا چې د شریعت له اوونیزې سره قلمي همکاري د ځان لپاره ویاړ بولئ ډیره مننه .
لکه تاسې چې هم لیکلي ستاسې هر مطلب چې اداري ته را رسیدلي دي په خپل وخت مو نشر ته سپارلي دي هیله ده چې په راتلونکي کې هم خپله قلمي همکاري له موږ نه ونه سپموئ

اداره

طالبانو ورونو موږ ته د عزت لوېتیا په سر کړه

د شریعت اوونیزې محترمو کارکوونکو خدای «ج» مو په خپلو ورکړو کارونوکي موفق لره
ګرانو ورونو دا په راسره حتماً ومنئ چې د کمونستانو او روسانو په وخت کې افغاني خویندو هم د خپلو یا نورو ورونو تر څنګ په جهاد کې برخه اخستې ده او د خپلومجاهدو ورونو په څیر دوي هم د کمونستانو او ددین دښمنانو له لاسه ځوریدلي دي او د ربانې دوره هم له دوي نه کمه نه وه کله چې د طالبانو اسلامي تحریك را منځته شو او عملاً یې د بد امنی، ظلم وحشت، فحشا، چور غلا او نورو ناوړو کارونو مخه ونیوله نو خدای حاضر دي چې ددې زیرې په اوریدلو سره موږ هم ډیر خوشحاله شو او هره شپه مو دعا کوله چې خدای دي طالبان کابل ته راورسوي چې دا روان وحشت له منځه ویسي او الحمد لله دادې هغه وخت هم راغی د کوم لپاره چې موږ د عاوې کولې اوس چې کابل د طالبانو د اسلامي تحریك تر واك لاندې دي ، شریعت نافذ دي، خلك په اطمینان سره خپل کارونه کوي د فحشا مخه نیول شویده او خویندو هم خپل اسلامي حیثیت تر لاسه کړېدي زه ویلی شم چې طالبانو ورونو موږ ته لوي عزت او دوباوي را وبخښه له لوي ظلم او وحشت نه بې خلاص کړو رښتیا خبره ده چې په تیرو وختونو کې د هر چا مال سر او ناموس له خطر سره مخ ؤ او دا هم باید ووایم چې د اسلامي شریعت نفاذ د طالبانو د اسلامي تحریك دنده ده او خویندې په حجاب پتیول هم په دې کې راځي .
بې حجابي یو منکر او ناوړه عمل دي او طالبان مکلف دي چې د هر منکر مخه ونیسي خوبو څه چې موږ یې خپل طالبانو ورونو ته ویل غواړو هغه دا ده چې دلته ډیر فاسد نظامونه تیر شویدي او د کابل د ښاریانو په ذهنو او افکارو یې بد اثر پریښي دي که طالبان ژر له حکمت موعظې او نرمۍ نه کار واخلي زما په فکر سه نتیجه به ورکړي دا ځکه چې په هره پروسه کې طبعي نیمګړتیا وي وي دعا کوو چې خدای«ج» د دې زموږ نیمګړتیا وې حل کړي . موږ هم الحمد لله مسلمانانې یو نیکو نه، نیکونه مو مسلمانان تیر شویدي د خپل حیا او عفت نه مو سرونه قربان کړي دي، نا هیدې چې د مکروبیان له ځلورم منزل نه ځان را وغورځاوه خو صرف د خپلي حیا نه یې ځان قربان کړ او بیا افغانان یو چې د

د شریعت تبصره

په هیواد کې اداري او تشکیلاتي تورم له منځه وړل یو نیك اقدام دی

په تیرو دوه و لسیزو کې د جګړو د اور له لا مله افغانستان له ډول ډول ستونزو سره لاس او ګریوان دي چې دې ستونزو زموږ د هیواد په سیاسي، اقتصادي ، اجتماعي، کلتوري او اداري اړخونو ډیر ناوړه اثر کړیدي چې دا نیمګړتیاوې د هیواد د احیا او بیا ابادولو په وړاندې لوي خنډ ګڼل کیږي .
د افغانستان اسلامي دولت چې همدا اوس هم په تحمیلي جګړو کې را ګیر دي او د خپلو رغنده فعالیتونو په لړ کې یې د هیواد ابادۍ او بیا جوړوني لپاره کلکې مټې را بډ وهلي دي له هره پلوه غواړي چې افغانان یوروڼ مستقبل ته مخ کړي چې د روغتونونو، ښو ونځیو، پلونو، سړکونو ... د جوړولو تر څنګ یې د هیواد د پولي تورم د مخنیوي لپاره هم ګړندي ګامونه واخستل او اوس داسې ګونګسې دي چې تشکیلاتي او اداري تورم د مخنیوي لپاره یې هم هڅې پیل کړیدي که دا رښتیا وي نو په یقین سره ویلای شو چې دا په خپل ذات کې د اسلامي دولت لپاره لوي بریالیتوب او نیك اقدام دي .
هیواد وال خبر دي چې په تیرو دوه و لسیزوکې په افغانستان کې داسې ډلې واکمنې وې چې د ملت د ارادې او اختیار پر خلاف یې ځان پرې تپلي و او نه تنها دا چې ملي پشتوانه یې نه درلوده ، بلکه ټول ملت یې هم په ضد را پاڅیدلی وو نو دې کمزورو او نا اهله ادارو هڅه کوله چې په هر ممکن ډول ځانته ملګري پیدا کړي چې اداري او تشکیلاتي سیستم هم د همدې هوسونو هدف او ښکار شو کله به چې دې ډلو وغوښتل چې کومه بله ډله ځان سره ملګري کړي نو مجبور به وو چې د هغې د خوښولو او راضي کولو لپاره د یو نوي وزارت او ریاست دروازه خلاصه کړي او له امتیازاتو نه یې برخمن شي هره ورځ به په تشکیلاتي سیستم کې د وزارت ، ریاست ،مدیریت ، پستونو د خلاصولو فرمان د جمهور ریاست د محترم مقام!! لخوا صادریده دا فرمانونه او د پستونو ورځني ډیربښت هم زموږ د هیواد په اقتصادي وجود بونه رغیدونکي ټپ شو، اداري تورم چې د همدې فرمانونو په اثر رامنځته شو ددې سبب شو چې په اداري سیستم کې په لویه پیمانه بیوکراسي را پیدا شي، کارونه ټپ او سبا ته وځنډیږي او په خپل وخت تر سره نه شي، رشوت ، اختلاس ته لاره هواره شي، تخنیکي او مسلکي نیمګړتیاوې را پیدا شي همدا راز تشکیلاتي تورم د پولي تورم د را منځته کیدو ستر عامل ګڼلی شي چې مهم یې مامورینو ته د معاش ورکولو په پروسه کې ځنډ را پیدا کیدل دي، دولت چې خپله له ډیرو اقتصادي ستونزو سره مخ دي کله به ورته دا ممکنه وي چې دې ګڼ شمیر مامورینو ته دومره معاش ورکړي چې د ژوند د ټولو برخو لپاره یې هر اړخیز کفایت وکړي او دومره بې ضرورته وزارتونه او ریاستونه هم اکمال کړي، چې دا پخپله رشوت ، اختلاس او ... ته زمینه برابرول دي .
نو که دولت په معقول او تخنیکي انداز په دې وتوانیږي چې دا تورم له منځه یوسي او د عیني شرایطو او ایجاباتو په اساس یو دولتي اداري سیستم منځته راوړي نو په پوره باور سره ویلي شو چې دا به د دولت لپاره تر ډیره حده ستونزې کمې کړي او دولت به وکولی شي چې یو مستحکم اسلامي نظام چې په رښتونو غوښتنو او اړتیاو یې اساس ایښودل شوي وي را منځته کړي چې په دې صورت کې به د هیواد د ابادۍ او بیا جوړولو لپاره هم زمینه برابره شي .
خو ددې اقدام دوهم اړخ که وڅیړل شي نو ځنې ستونزې هم پیدا کوي چې له پامه غورځول یې مناسب نه برېښي هغه دا چې دا کار به د ډیرو مامورینو د اوزګارتیا سبب شي، خو په عمراني ډګر کې د دولت هڅې انسان هیله من کوي چې دولت به حتماً دې پروسې ته څه چمتو والي او پیشبیني ولري چې همدا اوس یې د ډیرو کانونو په استخراج ، د لویو لویو فابریکو په ترمیم او بیا جوړونه ، د سړکونو او نهرونو په ترمیم پیل کړیدي او دې ټولو برخوکي بشري قوي او افرادي توان ته اړه لیدل کیږي چې امید کیږي دا فارغ کسان به هملته استخدام شي.
خو یو څه چې موږ یې د اسلامي دولت مقاماتو ته په احترامانه ډول عرض کوو هغه دا چې که دوي د مامورینو په ګمارلو کې دا دوه مهم اصول (اخلاص او تخصص) په نظر کې ونیسي نو له یوي خوا به یې په دې ډګر کې تخصصي او دیني معیارونوته توجه کړې وي او له بلې خوا به یې دولتي اداروته د بې کفایته او غیر صالحو اشخاصو د ننوتلو مخه نیولې وي چې په دې توګه به په دولتي ادارو کې کارونه په اخلاص او لازمو چټکتیا و سره تر سره شي .
الله «ج» په خپل مبارك کتاب کې هم همدې اصولو ته څو ځایه اشاره کړېده او امر یې کړیدي چې (امانتونه خپل اهل ته وسپارئ!) همدا راز په سورت یوسف«ع» کې هم همدې اصولو (اخلاص او تخصص) ته اشاره شویده لکه چې یوسف«ع» د مصر عزیز ته وفرمایل (اني حفیظ علیم) یعني : یقیناً زه ساتونکې(مخلص) او پوه (متخصص) یم .
د موسی او شعیب علیهما السلام په قصه کې هم په همدې معنی فرمایي :« ان خیر ... لقوي امین »
نو که اسلامي دولت دا اصل عملي کړي موږ باور لرو چې افغانستان به هم د یوسف«ع» د زمانې د مصر په ډول خړوب او اباد شي.

سپین

متقی

څه د سپینو توریالیو سپین کاروان دي | سپینې توري سپین بیرغ سپین یې نښان دي
سپینو غروکي سپین رهبر سپینې لښکري | عجیب خوږ د سپینو ستورو سپین داستان دي
دا سپینا زړه کي یې سپینه رڼا وکړه | دا سپین لمر که سپین قمر تر لمر روښان دي
ښه په سپینه رڼا ورځ د رومي په ویاندي | سپین هدف سپین یې منشور سپین یې بیان دي
د سپین سترګو سپینې سترګي یې کړي پوچي | سپین یې وار په سپینه ورځ په سپین میدان دي
سپین وطن کي د تورمخو جرړي باسي | سپین یې زړونه سپین مطلب سپین یې ارمان دي

«متقي» د سپینو هیبین بڼ کي ګرځه
په سپین بون کي سپین بري تلک سپین عیان دي

ای طالب ای شهید راه روشنائی

م.ح. سوبمن دراني

ای قهرمان معرکه حق و باطل که بر مزارت شکوه و ابهت ... خوابیده است ، در سنگهای آرامگاه تو چشمه، از نور متجلي است و بر مرقدت ماه ستاره گان، و خورشید تبسم میکند و ابر هاي بهاري اشك میریزند .

اگر چي تربت تو برتلي از خاك بنا یافته و با سنگ هاي سپید زینت یافته و جسمت را خاك هاي سیاه و نمناك در آغوش گرفته است اما عشق و محبت تو در دلهاي مردمانت موج میزند و مردم سرزمین حماسان آفرینت ، یادت را جاودانه گرامي میدارند هر که این جا میآید بر ارمگاه تو گلهاي بهاري میریزد و دانه هاي مروارید گون اشکي را که از ژرفناي قلب سرازیر میشود روي سنگ پارچه ها و خاك هاي قبرت میباشند و بر گور تو بوسه میزند و یادت را با رقت قلب تازه میکند .

زیرا تو حماسه آفریني نمودي و بزرگترین کارنامه را در تاریخ درخشان کشورت بیادگار گذاشتي

توا هماي خوشبختي را در فضاء کشور ما به پرواز در آوردي و قو سپید سعادتمندي و آرامش را در امواج قلوب هموطنانت به سینه زدن واداشتي .

تو وشهید شدي تا مردم کشورت زنده گردنده، تو به جاودانه ها پیوستي تا هم میهنانت از قفس نحس سیادان و زالو خصالان که کشور ما را به ورطه نابودي میکشاند نجات یابند .

دیگر سرزمین ماه اقامتگاه مرگ و زمان عصر «شب» نیست دیگر نه مرگ براي ما روزنه، بسوي نجات نیست و نه زندگي اندوهبار ، زیرا در قبال جانفشاني هاي تو، در چمن زار سبز زندگي ما آواي امید بخش سعادت از هر طرف بگوش میرسد و ملت ما ، در کشتي امید نشسته و در درياي بیکران نور سوي افق هاي روشن سعادت و خوشبختي به پیش میرود .

دیگر روان هاي مضطرب ما ، از چنگال دلهره که زاده ظلم و استبداد عمال بیگانه بود ... آزاد گردیده است و روح در فضا پهناور آزاده گي بال میزند .

د ادب مرغلري

مه ژړه وه

عبداللطيف «نثار»

نوي ورته ژړیږي مسلمان مه ژړه وه
د پاك قرآن دښمنه افغانان مه ژړه وه
شمو کښي لوغړیږي لړ له خدايه وړيږي
ژړه واړه دا کوشوي پښیمان مه ژړه وه
له اوښکو به ئي جوړ شي لوي سیلاب او تا به غرق کړي
کاروان د شهیدانو ته آسمان مه ژړه وه
ګردونه توري دوري له کورونه پورته کیږي
لوي غرونه ورته ژړي کهکشان مه ژړه وه
کندز تالقان پرېږده چه سرو وینو کي لمبيږي
د شنو تاکولپاره نور پروان مه ژړه وه
مزار چه د سخي صاحب دیره ده خاپړو ژړي
نور تو لعنت به تا شه پاك ولیان مه ژړه وه
فاریاب به اور وسوي نه ئي کور پاتي نه کلي
په غم ئي چه تور شوي بدخشان مه ژړه وه
تخار د ګلو ځاي وه شوله خاورو سره خاوري
جوزجان چور چپاول شو هم خنجان مه ژړه وه
نن هلته کله دلته د ماتم څره قضا ده
په وینو ټول ککړ افغانستان مه ژړه وه
کاروان د حق د لاري درېسي ده نا بوديږي
دا ظلم دېر بس کړه «نثار» مه ژړه وه

عالمګیره هنګامه

قاضي محمد حسن (حقیار)

جهاد مي سور بیدار کړي د سوبین ژوند علامه یم
بیرغ مي د جهاد شوه عالمګیره هنګامه یم
تکل مي د مظلومو ولسو خلاصون شکیلان ته
زړي مسلمانانه د ازاد د ژوند پیلامه یم
جنبو مي د اسیرو ولولي را پاروبي
پاك یم له بیګانه چي به ژبو زمزمه یم
قلمه ! قدوسیت به دي ساتم ربه (ج) ایوبي کړم
پیل مي له اسیانه شو هماغه کار نامه یم
«طالب» د حقیقت بمه خادم د پرګنو یم
وحقیار» و به کتاب د قرباني کي سر نامه یم
وزیر اکبر خان ۷۵/۱۲/۱۳

د شهیدانو «رح» کاروان

مولوي زرمتي

هیواد به ونغوري چي خدا کړي د بړچو په څوکو
لکه د شمعي چي ځان سیزي د لمبو په څوکو
نازك خیالونه نازولي دي ژلمي شاعران
ځي به په بل پسي د شعر او قافیو په څوکو
ښیقي محکمي دي پسې حقیار، نثار ځي په ناز
ګلالۍ ورمیلي بي له خیاله د شملو په څوکو
زړي له دي چي يي وسي يي د پسو زوالمه
پسي د اوښکو مرغلري د ړهو په څوکو
ځوابي ترې لاړه رونږدي وتیو په نیمه لارکي
که نه ! لمېولو ورانذي نه د دنګو غرو په څوکو
[illegible]
[illegible]
[illegible]
خوك به مرله دي خوك ووړه د ګړنګو په څوکو
د شهیدانو ګل کاروان ګوره چي څنګه د رومي !
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
کابل ۱ حوت ۷۵

د میړنو کور

حنیفه زاهد «شاجوتی»

دا کور د میړنو دي غلیمانو نه ځاي نشته
ياغیو د زمرو دي بزدلانو ته ځاي نشته
[illegible]
افغان ته سره تیر ده خو هیڅ تیر نه ده له ننګه
شرقیان ئي نیت پاك کړو د غریبانو ته ځاي نشته
ياغیو د زمرو دي بزدلانو ته ځاي نشته
دا کور د جیلواکي دي هر سړه يي مشکر دي
چه بغلي ورته نیت دي د غلري غرج شوي سر دي
کارمل او شاشجاع نوکري مړیانو ته ځاي نشته
ياغیو د زمرو دي بزدلانو ته ځاي نشته
[illegible]
[illegible]
[illegible]
ياغیو د زمرو دي بزدلانو ته ځاي نشته
[illegible]
[illegible]
[illegible]
ياغیو د زمرو دي بزدلانو ته ځاي نشته
[illegible]
[illegible]
[illegible]
ياغیو د زمرو دي بزدلانو ته ځاي نشته

ادبي نمانځنه

[illegible]

زموږ د فرهنګ بیا رغونه او وده زیاتو مرستو ته اړتیا لري

غالب

په افغانستان کي د اسلامي نظام له ټینګښت سره سم ملګرو ملتونو، مرستندویه مؤسسو، دوستو او ګاونډیو هیوادونو ته په کار وه چي د افغانستان د ځوریدلو خلکو سره یې د پوځي مرستي په ځاي بي له قید او شرطه اقتصادي، تجارتي او فرهنګي مرستي کړي واي، خو خبره بر عکس شوه او د پوځي مرستو بازار تر بوي اندازي پوري لا نور هم ګرم پاتي شو او د سولي په ځاي جګړه دوامداره شوله . په هیواد کي اقتصادي تأسیسات او تجارتي مارکیټونه یا د وسله والو کسانو له خوا چور شول او یا خو د جګړي په لمبو کي وسوځول شول او ددي په څنګ کي د افغانستان تاریخي او فرهنګي آثار او مرکزونه لوټ او تالان شول، دولتي مطبعي او کتابتونونه هم له منځه لاړل او په نتیجه کي زموږ یو زیات شمیر فرهنګیان دي ته اړ شول چي د خپلو فرهنګي کارونو سر ته رسولو له پاره له خپل هیواد څخه ووځي او په دغه ډول په سلګونه فرهنګي شخصیتونه له هیواد څخه بهر مهاجر شول او د ګوتو په شمار دا ډول شخصیتونه په هیواد کي د ځانګړو مجبوریتونو له مخي پاتي شول تاریخي او فرهنګي آثار هم زموږ د فرهنګیانو په څیر مهاجر شول او په ډیرو لږو پیسو په بهر کي وپلورل شول او په دغه ډول په هیواد کي یو بشپړ فرهنګي انحطاط را منځته شو ربانی د اشلاقي اداري په وروستیو وختونوکي د فرهنګ د رغونې او ودي په نوم یو شمیر جریدي او مجلي راووتي چه په مجموع کي دغه رنګه فرهنګي هڅو یو سیاسي تجارتي اړخ درلوده او د یو څو تنو ژورنالیستانو لیکوالواو شاعرانو له پاره په کي یو څه د کار شرایط برابرو او ددي تر څنګ ځیني فرهنګي غونډي او مشاعري هم وشوي خو په دغه رنګه هلو ځلو باندي د فرهنګ او هنر د مینانو تنده نه ماتیدله او داسي فرهنګي او تاریخي آثار چاپ نه شول چي زموږ خلك تري ګټه واخلي، او دغه حالت ددي سبب شو چي زموږ فرهنګیان په بهر کي د بهرنیو مرستو په تشویق او لاسته راوړلو سره خپلي فرهنګي هڅي له هیوادنه بهر پیل کړي او دا دي اوس په داسي هیواد نه وي چي هلته افغاني فرهنګیان د ملګرو ملتونو، مرستندویه مؤسسو او د نړي د فرهنګي سازمانونو په مرسته نوي فرهنګي او تاریخي آثار چاپ نه کړي او دا کار بالاخره ددي سبب کیږي چي د نورو هیوادونو فرهنګي سیوري په افغاني فرهنګ ولاړ پاتي شي . نو اوس دا پوښتنه را منځته کیږي چي آیا د افغانستان خلك حق نه لري چي دخپل فرهنګ د رغوني او ودي له پاره په خپل هیواد ګي مهي راو نغاړي د پورتني پوښتني په ځواب کي دا باید ووېل شي چي د افغانستان خلك دا حق لري چي په خپل هیواد کي د خپل فرهنګ لپاره کار وکړي خو په اوسنیو شرایطو کي د اقتصادي ستونزو د لرلو له امله په هیڅ ډول نه شي کولاي چي د فرهنګ په وده کي لازم اقدامات وکړي دا ځکه چي په هیواد کي فرهنګیان د خپلي ډوډي خوړلو توان نه لري نو د کتاب او نورو آثارو چاپ او نشر خو لا پریږده اوس د افغانستان د نوي اسلامي دولت په را منځته کیدو سره ورځ په ورځ ددي شرایط برابریږي چي د خلکو فرهنګي ژوند بیا پیل شي، د طالبانو د اسلامي تحریك او د ملت ددي مخلصو بچیانو تر زعامت لاندي نوي اسلامي حکومت د اقتصادي او نورو ګڼو ستونزو سربیره بیا هم لګیا دي د نورو شعبو او پروژو تر څنګ هنري او کلتوري خدمتونو ته شرایط برابر وي چي تر خپله وسه په دي اړه تر ډیره حده بریالي شوي هم دي زه یقین لرم چي کله د پخوانیو دورو مساعد شرایط او اقتصادي حالت له اوسنیو شرایطو سره مقایسه شي او بیا په مقایسوي ډول د دواړو دورو خدمتونو ته کره کتنه وشي نو هر څوك به دا ومني چي نوي اسلامي حکومت په خپله دي لنډ مهاله دوره کي د پخوا په نسبت څو چنده ډیر کار کړیدي . ځکه په تیرو دورو کي به که په عمراني ډګر کي یا هم کلتوري او ادبي ډګر کي او یا هم په نورو ډګر و کي پروژي خلاصیدلي نو د مشرانو هدف یې هیڅکله هم خدمت نه وو او نه یې هم کیږي بلکه ددي پروژو د خلاصولو نه د دوي هدف دا وو چي له حکومت نه د پیسو لاسته راوړلو لپاره دوي ته یوه بهانه جوړه شي چي حکومت او حکومتي مشران ټول په کي شریك وو .

نو هغه موسسي چي په کلتوري او ادبي ساحه کي د خدمت په نوم خلاصي شویدي که په رښتیا هم په دي اړه د خدمت هوډ لري نو خپل پروګرامونه باید د اسلامي دولت سره هم غږي کړي او هم له اسلامي دولت سره په دي ساحه کي د کار لپاره مرستي وکړي ځکه دوي چي په پیښور کي کوم معاش په مامور او کارمند نه ورکوي دلته په افغانستان کي پنځه شپږ ماموریني پري قناعت کوي .

او له دي سره په د افغانستان د ننه فرهنګي موسسي او دولتي مطبعي هم بیا فعاله شي ، موږ همدا اوس وینو چي په کابل او د افغانستان په نورو سیمو کي د نړیوالو مؤسسو له خوا ډول ډول مرستي د افغانانو سره دوام لري او د هغوي دغه انساني او بشري مرستي د قدر وړ دي خو افغانان د خپل فرهنګ د بیا رغوني له پاره هم مرستو ته اړتیا لري او دا حق لري چي د ملګرو ملتونو او نورو فرهنګي مؤسسو نه د اخلاقي او بي قید او شرطه مرستو هیله وکړي او ملګري ملتونه او فرهنګي موسسي هم باید د افغانانو د فرهنګ د رغوني په کار کي لاس تر زني کښنه ني . زه دا باور لرم هغه مرستي چي ملګري ملتونه په بهر کي د ځینو افغاني فرهنګي سازمانونو او ډلونو سره سرته رسوي کمه چیرته د نوموړو مرستو دوه پمه برخه هم د افغانستان د اسلامي دولت له لاري په افغانستان کي د ننه د فرهنګي او اجتماعي سازمانونو سره وشي او د فرهنګیانو د ژوند په باب څه لازم تدبیرونه ونیول شي نو دا کار به ددي سبب شي چي له یو ي خوا به د ملګرو ملتونو مرستي د فرهنګ په برخه کي له انحصار څخه ووځي او له بلي خوا به د هیواد په داخل کي د فرهنګیانو له پاره د هغوي د فرهنګي فعالیتونو او ژوند شرایط برابر شي او فرهنګیان به دیته وهڅول شي چي خپل هیواد ته د فرهنګي هلو ځلو د دوام له پاره راستانه شي ، د خپلو خلکو د دردیدلي ژوند په لیدلو سره ډیر په زړه پوري فرهنګي، هنري او تاریخي آثار نشر او چاپ کړي او د خپلو خلکو په خدمت کي یې ورکړي .

ستاسو لیکنو ته زموږ ...

غیرت او حیا ساتي مو په دنیا کي نه لیدل کیږي نو حجاب او پرده خو پرمونږ د ایمان په څیر ګرانه ده موږ پوهیږو چي اسلام موږ ته په حجاب امر کړیدي خو دا یې نه یې ویلي نه وي چي د حجاب لپاره په مشخص ډول سپین ، یا تور یا سور یا شین یا ... پوکر یا خاص ډیزاین او طرحه لکه افغاني برقه یا عربي یا ایراني حجاب استعمال کړئ د اسلام هدف دا دي چي حجاب پوره مراعات شي او موږ هم ټول بدن پټ ساتو نو اختیار لرو چي هر رنګه پوکر او په هر ډول چي حجاب مراعات کیږي استعمال کړو ایا دا نوري لوپټي چي موږ په کړ ځان پټوو ، د اسلام له نظره حرام دي، په دي کي خو هیڅ (تبرج) نشته او دا رنګیني چادري ګاني خو له دي نه ډیري شوخي دي او بل دا چي ټول خبر دي چي په مجموعي ډول افغانان له اقتصادي ستونزو سره مخ دي او دا افغاني چادري ګاني ډیري قیمتي دي حتي د ارزاني چادري بیه هم دري لکو افغانیو ته رسیږي موږ کله ددي وس لرو .

زموږ هیله له جیدو او محترمو علماؤ څخه دا ده چي په دي هکله اسلامي مکلفیتونه توضیح کړي . همدا راز په اسلامي دعوت کي حسنه موعظه له حکمت ، رفق او یسر له کار اخستل د دعوت له مهمو اصولو څخه ګڼل کیږي . محترم طالبان باید خپلو پاندي دي وجیبي نه د دعوت او عملي کولو په وخت کي حکمت، رفق او موعظه مراعات کړي . رسول «ص» په دي معنی فرمایي (اسانتیا کوه او سختي مه کوه، خلکو ته زیري ور کوه او ...) په دي کار خو د خوښلو په ډول کي نور هم نفرت پیدا کیږي .

بل داسي لیدل شوي چي په ښار کي ځیني غیر مسؤول افراد هم په ښځو وار کوي او تهدیدوي یې، د افغاني ټولني له کلتور او عنعناتو نه خبر خلك پوهیږي چي په افغاني ټولنه کي را چا په ښځه او ناموس لاس اوچتول موږ درونډ تماميږي .

زه په اخره کي خپلو طالبانو ورونو ته یادونه کوم چي زه نه د حجاب مخالفه یم او خداي مه کړه د بل فکر خاوند هم نه یم یوازیني هیله مي دا ده چي د حکمت موعظي او اسانتیا نه کار واخستل شي .

ستاسو خور حسنۍ

محترمي خور حسنۍ زموږ ټیکي هیلي هم ومني ستاسو لیك مو نشر کړ هیله ده چي د اسلامي دولت د مسؤولو مراجعو پام درته وګرځي، او د اسلامي دولت دارالافتاء ستا استفتا ته شرعي ځواب ورکړي .

په دین مبین طالبان په وینا او عمل کي یو دي

ګرانو هیوادوالو دا خبره ټولو ته روښانه ده چي طلبا حق کومه خبره کوي هغه په عمل کښي پلي کوي. [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

لاس په سر شي او ... اسلامي اردو ته تسلیم کړي او دا امیر المؤمنین مجاهد ملا محمد عمر اخوند د عفوي له اعلان څخه استفاده وکړي اودا وخت د ځان لپاره لوي غنیمت وبولي او که داسي نه وي نو وخت پردوي ګراني ارګیږي چه د کوم عمل مستحق دي ... چي خه یې د لاسه نه کیږي د دوي عذرونه منل شي .

والسلام

ملا عبدالقیوم عاطف

محترم ورور ملا عبدالقیوم عاطف

ستاسي د اوږده لیك څخي برخي مو نشر ... او هیله ده چي ... خپله قلمي همکاري جاري وساتي .

ناوړي لاسونه

د شریعت اونیزي اداري ته

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

هیله ده چي لیك مي ... په خپله درنه جریده کي نشر کړئ .

[illegible]

والسلام

احمد شاه وردګ د کابل د پیداګوژي انستیتوت ... محصل

۱۳۷۵/۱۱/۲۹

محترم ورور احمد شاه وردګ

[illegible]

رسول الله ﷺ فرمود: (الدين النصيحة ...)
دین عبارت از نصیحت وخیر اندیشي است. گفتند: براي چه کسي؟ فرمود: براي خدا وبراي کتابش وبراي رسولش وبراي رهبران مسلمان ها وبراي همه مسلمین «روایت از مسلم»

د جمعې د ورځې بهتري (فضیلت) او په پاکستان کې په دې هکله نوی تصمیم

امام مسلم «رح» له ابو هریره رضي الله تعالي عنه څخه روایت کړی دی چې هغه ویلي : رسول الله «ص» ویلي : بهترینه ورځ چې لمر وریاندې راخیژي د جمعې ورځ ده، په دغه ورځ آدم علیه الصلوة والسلام پیدا کړی شوی دی او په دغه ورځ جنت ته ننویستل شو او په دغه ورځ ورڅه راوایستل شو - ریاض الصالحین

امام ابو داوود «رح» له اوس بن اوس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چه هغه ویلي : رسول الله «ص» ویلي : د تاسي له بهترینو ورځو نه د جمعې ورځ ده په دغه ورځ کې پر ما ډیر درود ووایاست ځکه : ستاسي درود ماته راوړاندي کول کیږي - ریاض الصالحین

د جمعې د ورځي په بهترینو او فضیلتونو کې : پاکي ، د غسل ، د خوشبویي دجمعې لمانځه تللو او نورو عبادتونو په هکله ډیر صحیح روایتونه راغلي دي په تیره بیا د ابو هریرة رضي الله تعالي عنه هغه متفق علیه روایت چې وایي : رسول الله «ص» جمعه یاده کړه او ویې ویل چې په دغه ورځ کې یوه شیبه ده چې هیڅ مسلمان بنده یې په داسي حال کې وروسره موافق نه شي چې په لمانځه ولاړ وي او له الله تعالي څخه یو څه غواړي مګر وریې نه کړي - یعني که د بنده سوال له دغه وخته سره برابر شو قبول دی - ریاض الصالحین

د دغو او داسي نورو فضیلتونو پر بنسټ باندي اسلامي امت په سوونو کاله له پیل نه تر اوسه پوري د جمعې ورځ د فراغت او رخصتي ورځ ټاکلي ده تر څو مسلمانان په ډاډه زړه او خلاص مټ سره خپل طهارت او نظافت او عبادتونه تر سره کړي ؛

د پاکستان د ورور اسلامي هیواد حکومت چي اوس تصمیم نیولي دي چي ددغي ورځي رخصتي لغو کړي په دي کې دغه دیني زیانونه دي : ۱- د ټول اسلامي امت د یو نیم زر کلني عملي فیصلي ماتول (خرق الاجماع) دي ، ۲ - د پاکستان مسلمان ملت د جمعې مبارکي له فضیلتونو او ثوابونو څخه بي برخي کول دي، ۳ - د ټول اسلامي امت بد ګماني پیدا کول او اجتماعي بدعت دي . ٤ - تر ټولو بده خبره دا چي د اسلام له دښمنانو نصرانیانو سره یو رنګي او مشابهت دي، په صحیح روایت کې راغلي دي چي مسلمان له چا سره ځان یورنګي کوي له هغو نه به و شمیرل شي، بل هغه د ابو سعید خدري «رضي الله عنه » روایت دي چي پکي راغلي دي کـه تاسي مسلمانان په دي اخیر وخت کې لویشت په لویشت د یهودو او نصرانیانو پیروي وکړي ... څرنګه چي پاکستان د اسلامي نظام د پیاده کولو لپاره منځ ته راغلي دي او دد هغه لپاره ډیر قیمتي سرونه قربان شوي دي او هم د اسلامي نړي د توقعاتو او امیدونو کورّدي ځکه : د پاکستان بین المللي دریز په اسلامي قضایاوو کې تل مثبت دریز راغلي دي زموږ هیله دا ده چي د پاکستان حکومت کـه د اسلامي نظام په پیاده کولو کي د پر مخ تګ وس نه لري نو په شا خو دي هم نه ځي په دغه پریکړه سره دي نه خپل مسلمانان ولس او نه اسلامي نړي خپه کوي بیرته دي یې منسوخه کړي .

شفاخانه (۲۵۰) بستر ...

آن بخرچ داده اند ابراز قدر داني نموده افتتاح شفاخانه مذکور را گام ارزنده در جهت خدمت به هموطنانما دانست. شفاخانه ۲۵۰ بستر ولادي تسابي «رابعه بلخي» کـه در اثر جنگ هاي تحمیلي شهر کابل، تخریب و سامان و تجهیزات طبي آن مورد سرقت قرار گرفته بود ، به اثر مواظبت دولت اسلامي افغانستان، مجدداً آماده فعالیت گردید کـه در آن حدود دو صد و چهل و هفت تن پرسونل طبي (٢٤) در خدمت مریضان قرار دارند .

در نتیجه عملیات ...

، زیکویك ۸ میل، کلاشینکوف، ۲۰٤ میل، راکت آر پي جي ۱۹ قبضه ، هاوان ۱۰ میل، پیشه ٢٤ میل، مارکول ۱ میل، تفنګ صد تکه ٥ میل، تفنګ ۲۰ تکه ۳ میل، تفنګ ۱۰ تکه ٤ میل، تفنګ ۱ تکه ۱۳ میل، بم دستي ۱۱ عدد ، تفنګچه ۹ قبضه و صد ها صندوق مهمات مختلف النوع میباشد کـه بعد از جمع آوري به دیپو هاي مربوطه انتقال داده شد .

هند ۷۳ میلونو کوچني کارګرو ...

په ۱۹۹۷ میلادي کال د ماشومانو د حالت په باب د یونیسف د ریوټ په یو نسخه کي چي د کلکتي په ښار کي خپور شویدي ویل شویدي چي دغه بي وزله ماشومان په هند کي د زیاتو قوانینو دشتوالي سره سره له کړاونه ډك ژوندانه سره مخامخ دي .

د یونیسف رئیسي ویلي دي چي له یو شمیر افریقایي هیوادونو سره یو ځاي د برازیل ، چیلي، تایلند ، اندونیزیا او مالیزیا په ګډون په څو پر مختیایي هیوادونو کي د ماشومانو حالت له هند نه ښه نه دي .

دي په هند کي د کار د شرایطو او د کار په باب د نړیوال سازمان د ورووستي ریوټ له مخي وویل همدا اوس له پنځه کلن نه تر څوارلس کلني پوري ماشومان په کورونو کي د خدمت ګار په توګه او یا د صنایعو په برخه کي په ډیرو سختو شرایطو کي په کار بوخت دي .

دوستم د روسانو پیداوار ...

ډیره ویره کي دي، دوستم د روسانو پیداوار دي همدا سبب دي چي هر طالب ورته ډیر نفرت لري مجله لیکي : دوستم هغه وخت ولیدل شو کله چي روسانو د کابل تخت ډاکتر نجیب ته وسپاره ، نجیب پنځه میاشتي وړاندي طالبانو د کابل په یو چوك کي په دارو ځړاوه او یقیناً چي همدا انجام به د ٤٢ کلن دوستم هم وي، دوستم ځانته په شبرغان کي لویه مضبوطه قلعه جوړه کړیده، شبرغان هغه ځاي دي چي د طالبانو په ضد په کي جنګي او نظامي پلانونه جوړیږي د ده د قلعه شا و خوا سخته پهره ولاړه وي، دوستم د مرمۍ ضد هغه واسکټ اغوندي چي په جرمني کي یې د ځان لپاره جوړ کړیدي د دوستم لومړي ښځه مړه شویده او دویم واده یې کړیدي چي ورووستي کوچني یې یوه میاشت مخکي په شبرغان کي وزیږید. دا یکاره حقیقت دي چي که دوستم نه واي نو اوس به نه یوازي مزار شریف بلکه ټول افغانستان د طالبانو تر کنترول لاندي وو. دي لیك او لوست کم کوي د تورو ازبکانو بر عکس په پښتو، دري او روسي ژبو هم خبري کولي شي.

لندن ټایمز مجله زیاتوي، د افغانستان په هغو ښهر، و ولایاتو کي چي د دوستم تر کنترول لاندي دي د خلکو اقتصادي وضعه ډیره خرابه ده خو «دوستم پهلوانان» چي د عیش او عشرت نه ډك کوم ژوند کوي د هغې له کبله د خلقو په زړونو کي له ده سره نفرت پیدا شوي او طالبانو ته سترګي په لار دي دوستم چي له بهر نه څومره مرستي لاسته راوړي په خپل شخصي کار و بار یې لګوي په ځانګري ټول د بلخ ایرلاینز په پروازونو ملیاردونه افغاني مصر ته لیږي داسي معلومیږي چي د دوستم تګلاره به ډیر ژر ده په تاوان تمامه شي .

یك شاهد عیني که تازه از کندوز و تخار آمده بود به خبرنګار هفته نامه شریعت ګفت :

روز عید سعید فطر که رباني جهت اداي نماز عید به مسجد آمد مردم به شعار هاي مرګ بر رباني و رفقاي قاتلش او را استقبال نمودند

در تخار قیمت یك سیر ګندم به یکصدو بیست هزار افغاني و قیمت یك سیر روغن کنجد به پنجصد و پنجاه هزار افغاني رسیده است

در نتیجه زدو خوردیکه بین افراد قوماندان میر عالم و میرزا محمد ناصري به وقوع پیوست هفت نفر به قتل رسید

یك شاهد عیني که در همین اواخر از ولایت کندز و تخار به کابل آمده بود روي اوضاع امنیتي و نرخ و نوا اجناس ، ضروریات یومیه به خبرنګار هفته نامه (شریعت) ګفت :

اختلاف میان صفوف مخالفین دولت اسلامي قوس صعودي خویش را مي پیماید و روزانه میان آنها زدو خورد هاي مسلحانه صورت مي ګیرد . تقریباً سه ماه قبل شخصي از حامیان مسعود که مسمي به مولوي شهید بوده خطیب مسجد جامع ولایت تخار را کـه مولوي ضیا الحق نام داشت و از حامیان رباني بوده به قتل رسانید

روز عید سعید فطر که رباني جهت اداي نماز به همین مسجد آمده بودند همه مردم به پا خاستند و شعار مي دادند که مرګ بر رباني، مرګ بر رفقاي قاتلش ، مولوي قاتل و مولوي آدم کش مرده باد و هنګامیکه رباني خود را به مردم مواجه دید هر چه زود تر مسجد را ترك ګفت اما والي تخار که از همین یاند مي باشد تحت لت و کوب شدید مردم قرار ګرفت .

شاهد عیني در رابطه به نرخ قیم ګفت فعلاً در تخار یك سیر (هفت کیلو) ګندم به مبلغ یکصدو بیست هزار افغاني و یك سیر روغن کنجد به پنجصدو پنجاه هزار افغاني به فروش مي رسد .

و نا ګفته نماند که معاش مامورین دولتي از ماه میزان بدینسو اجرا نګردیده است .

شاهد عیني در رابطه به وضع امنیتي کندوز ګفت : طوریکه در تخار امنیت دیده نمیشود در کندوز نیز وضع امنیتي خیلي خراب میباشد . چند روز قبل از عید سعید فطر بین افراد میر عالم و میرزا محمد ناصري برخورد شدید مسلحانه صورت ګرفت که علاوه بر قتل هفت تن موجب حریق شدن فروشګاه عزیزي و ده دکان دیګر در داخل سراي چیلك فروشي ګردید .

در شاهراه کابل کندز افراد مسلح به اذیت مسافرین پرداخته و به بهانه هاي مختلف و بنام طالب و حامي طالب پولهاي نقد و اموال آنها به جبر ګرفته میشود .

شاهد عیني افزود بعد از فتوحات پیهم تحریك اسلامي طالبان در سمت شمال قوماندانان خائن و وطنفروش تمام اموال و داراي و موتر هاي مادل جدید خود را به تاجکستان انتقال مي دهند اما در این اواخر که بندر شیر خان به دست افراد دوستم تسلیم داده شد این پروسه نسبتاً کاهش یافت .

شاهد عیني مي افزاید : قیم بازار کـه چندي قبل به علت پیسجکاري دالر پائین آمده بود دو باره صعود نمود و ګفته میشود دالر کـه افغاني را ذریعه آن از بازار جمع نمود ، دالر جعلي ایراني بود .

د افغانستان د اسلامي دولت د اطلاعاتو او ...

او پیوستون اعلام کړ .

ورووسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست محترم ملا امیر خان متقي دوغو عالمانو د نیکو ولولو او د عالیقدر امیر المومنین په مشري د افغانستان له اسلامي دولت سره ددغو عالمانو د پیوستون له امله قدرداني ترګنده کړه .

د کابل والی محترم...

بي مقابلي ته واتللم .

پوښتنه : په ډیرو حساسو شیبو کي چي اسلامي تحریك به له ډیرو خنډونو او ټکرونو سره مخ وو او طبعي ده چي په داسي حالاتو کي به د حق د لاري د مجاهدینو مورال یو څه لویدلي وو خو تاسو په ډیر متانت او بهادرۍ سره د اسلامي تحریك د سپاهیانو مورال په خپلو مرکو او مصاحبو لوړ وساته ستاسو د ثبات رمز په څه شي کي دي ؟

ځواب : زموږ د بري راز هر چاته معلوم دي زموږ په دې خبر ، کلك باور دي چي خداي«ج» مو ناصر دي، تحریك مو سپیڅلي او ارمان مو مقدس دي. او په دي مو هغه وخت هم باور وو چي مخالفین مو مفسدین او خائنین دي چي د حق په مقابل کي تم کیدلي نه شي چي دا ثبوت هم شو ټول خلك خبر دي چي تحریك په پیل کي څو تغرو روان کړ خو د اخلاص، د خداي د نصرت او د ملت د دعا له برکته مو ډیر بریالیتوبونه په برخه شول .

پوښتنه : تاسي چي د هیواد د مرکز او د یو مهم ولایت مسؤولیت په غاړه لرئ دلته د شر او فساد ډیر ګروپونه وو خو تر اوسه پوري دلته د بي امنیتۍ هیڅ ډول واقعه هم نده پیښه شوي ایا تاسي کله هم په دي ځاي کي د امنیت په ټینګښت کي له خنډ سره مخ شوي یی ؟

ځواب :لکه څنګه چي تاسي ته هم معلومه ده د کابل له فتحي ورووسته دلته هیڅ ډول بي امنیتي منځته نده راغلي په ټولو ولسوالیو کي امنیت تأمین دي خو یوازي د شمال په ځنو ولسوالیو کي ځنو قوماندانانو له دوستم او مسعود پیسي واخستي او بغاوت یي پیل کړ چي هغه هم د خداي په نصرت او د مجاهد ملت په همکاري بیرته وځپل شول. دوي که څه هم له خپلو بادرانو نه ډیري پیسي واخستي خو څرنګه چي د ملت زړه ور نه تورو او نه یې ټوپک چي بیا دوي دلته ظلم او وحشت ته دوام ورکړي نو موږ یې د دوي له شرارت نه خبر کړو او د همدي ملت په مرسته مو د هغوي دسیسي شنډي کړي .

پوښتنه : له هغو مهاجرینو سره چي د کاپیسا او پروان ولایت نه کابل ته مهاجر شویدي تا سوله دوي سره څه مرستي کړیدي او اوس چي د ګرمي وخت دي او امنیتي وضع هم ښه شویده نو تاسو یې د لیږدولو لپاره څه اسانتیاوي په نظر کي لرئ ؟

ځواب : کابل ته د مهاجرینو د لږئ له پیل سره سم مو ټولو داخلي او بهرنیو موسسو ته اعلان وکړ چي له دي مهاجرو سره هر اړخیزي مرستي وکړي موږ هم وروسره راز راز مرستي کړي اوس هم کوښښ کوو چي بیرته تللو په وخت کي به دمهاجرینو د

بیرته ستنیدلو وزارت یا له کومي بلي لاري له دوي سره تقدي کومك وشي .

پوښتنه : لکه چي تاسي ته معلومه ده په افغانستان کي د اتلس کلنو جګړو له امله ددي هیواد اقتصادي نظام بالکل خراب دي هغه ملي او بین المللي تجاران چي پانګي ته یې سخته اړتیا ده له هیواد نه مهاجر شویدي تاسو هغوي ته څه اطمینان ورکوئ چي راشي او دلته خپله پانګه په کار واچوي ؟

ځواب : لکه چي تاسو ته معلومه ده د طالبانو د اسلامي تحریك تر کنترول لاندي سیمو کي بشپړ امنیت دي په کابل او ولایاتو کي اسلامي شریعت نافذ دي موږ ټولو ملي او بین المللي سوداګرو ته بلنه ورکړیده اوس یې هم ورکوو چي راشي او د وران ویجاړ وطن په ابادي کي برخه واخلي، موږ یې د امنیت ساتلو وعده پخوا هم کړي وه اوس هم وعده ورکوو چي ان شاء الله دلته به یې هر څه په امن وي .

پوښتنه : اوریدل کیږي چي د شر او فساد د وخت ځني قوماندانان چي په چور او غلا کي خاص شهرت لري بیا مسلح شوي او د تصفیي په نوم خلك ځوروي او قیمتي اجناس یې لوټوي تاسي په دې خبر یی که نه؟ او که خبر یی نو د عالیقدر امیر المؤمنین له مکررو فرمانونو سره سره ولي د دوي مخ نه ده نیول شوي ؟

ځواب : کوم مفسد عناصر چي د اسلامي تحریك بدنامي لپاره زموږ په صفونو کي را ننوتي دي او موږ پري خبر شوي یو نو هغه مو له صفونو شړلي دي او هم مو بندي کړیدي او اوس هم چي ځنګه دا ټول افراد موږ ته را وښیي نو په پوره اطمینان وعده ورکوم چي د دوي غم به وخوړل شي ځکه موږ په دي اړه جدي ګامونه اخلو .

پوښتنه : داسي اوریدل کیږي چي د کابل په ولایت کي کارونه ځنډیږي او مراجعین له ستونزو سره مخ دي ایا دا واقعیت لري او که نه او که واقعیت ولري نو وجه یې څه ده ؟

ځواب : تاسي ته معلومه ده چي موږ خپل کارونه پخپل وخت تر سره کوو دفتري ورځني چاري مو په نورمال ډول رواني دي او هیڅ توقف په کي نه لیدل کیږي خو ځنو یوازي په هغو کارونو کي راځي چي په مرکز کي د اسلامي دولت له قیام نه مخکي پیښ شویدي چي هغه اکثره پلټني او غور غواړي ځکه هغه وخت دسیسي ډیري دي روابطو خاص اهمیت درلود .

پوښتنه : په کابل کي پخوا اخلاقي، حقوقي او مدني جرمونه ډیر کیدل خو اوس کم شویدي وجه یې څه ده ؟

ځواب : د اسلامي نظام په راتللو سره ټولي حقوقي، اخلاقي او مدني ستونزي حل شوي او حل به شي او ان شاء الله چي دا نظام به په ټول افغانستان کي حاکم شي

پوښتنه : د راډیو د خپرو له لاري نه ډیر اوریدل کیږي چي مجرمین خصوصاً الله نیول کیږي څو په دوي د شرعي حدودو د تطبیق خبر مو وانه وریدل دي ځند لا امل څه شي دي ؟

ځواب : د اسلامي حدود تنفیذ او احکام جاري کول ډیر دقت غوښتونکي او وقت غواړي همدا اوس د کابل په ولایت کي (٦٦) قضیي تر غور او څیړني لاندي دي او مربوطه ځایونو ته لیږل شویدي چي د هغي له جملي نه محکمي په ٤ قضیو کي حکم کړیدي .

پوښتنه : ځني کارونه چي اسلامي دولت روان کړي او اجتماعي بڼه لري ایا ښه به نه وي چي په دي کار کي له سپین ږیرو ، علماء و منتفذینو او مخورو سره مشوره وشي ؟

ځواب : د طالبانو اسلامي تحریك او اسلامي دولت د«مشوري» اصل ته خاص اهتمام کوي او اسلامي دولت له پیل نه تر اوسه پوري له سپین ږیرو علماء او مخورو سره مشوري کړیدي. او د دوي د مشورو په نظر کي ځیني کارونه وړاندي ساتي او موږ د وطن ټولو مخلصو بچیانو ته بلنه ورکوو چي راشي او موږ ته نیکي مشوري راکړي

د اطلاعاتو او کلتور وزارت مالي او اداري معین ...

=معین محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد «هوتکي» د سپك موسسي مشري استازي ته څرګنده کړه چي د طالبانو د اسلامي تحریك د قرباني او هلو ځلو په نتیجه کي لن الحمد لله د هیواد په ډیرو برخوکي امنیت قایم او خبریه موسسو ته په هره برخه کي د خدمت زمینه برابره ده ، همدا وازد سپك موسسي مشري استازي د ملي او کلتوري اثارو د ساتني او خدمت په اړه له اسلامي دولت سره د سپك د موسسي د هر اړخیزو مرستو وعده وکړه او واو یې څرګند کړ چي په دي هکله به دا د افغانانو لپر بشري ټولنو او نورو مرستندویه ادارو ته ورسوي .

د مرکز د معین

اړتیا او اهمیت په باره کي خبري وکړي او د محکمو اداري کارکونکي یې خپلو مشرو او له مسوولیت نه ډکو دندونه متوجه کړل .

ورووسته د غزنوي برخه والو د اجراتو د ښه والي په لاره کي خپلي نظریي اوستونزي طرحه کړي .

ملك	ښیر میاشتني	کلني
د ګډون بیه له هیواده ته بهر		
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
روپا او امریکا	US$75	US$150

تامین وحدت ملي و ایجاد نظام مرکزي از اولویت هاي دولت اسلامي پنداشته میشود

ظروف اجتماعي و سیاسي زماني و مکاني هر کشور و ملك ایجابات و مقتضیات جداګانه یي از خود دارد که با ظروف و ایجابات دیګر کشور و ملك همانند و همسان نمي باشد و نباید و نسخه و تجربه واحد را به همه یکسان توصیه کرد و در پي تحمیل آن شد .

افغانستان که الحمد لله یك ملك و کشور اسلامي بوده همه زندګي هاي فردي ، اجتماعي ، سیاسي ملي و بین المللي خود را به یقین در ظل شریعت غراي محمدي «ص» میخواهد وقایه و حمایه نماید و با آزادي هاي یقین و باور دارد که چوکات روابط و ضوابط آن را اسلام به اوشان تعبیر و تلقین داشته است . دولت افغانستان به حیث یك دولت اسلامي در همه ابعاد زندګي ملي و کشوري خود دساتیر ، اوامر وهدایات متین اسلام را جداً مورد نظر داشته و به هیچ ایجاب ، ملحوظ و مصلحت به جز از اسلام وقعیه نګذاشته و به آن توصل نمي جوید و در این راه خدا را براي خود کافي و بسنده مي شمارد .

امروز و در شرایط کنوني ترجیحات و اولویت هاي که دولت ما به آن از همه بیشتر و بیشتر توجه داشته آن : در ظل شریعت اسلامي تأمین وحدت ملي و ایجاد مرکزیت میباشد که نسبت به آن دیګر مسایل و قضایا از حیثیت ثانوي برخوردار خواهد بود . کشور ما را متأسفانه در طول این دو دهه کمونیست هاي خلقي و پرچمي به بزرګترین فاجعه و تراژیدي عصر و زمان مواجه ګردانیدند و در نتیجه یي تجاوز و جنګ تحمیلي بر ملت ما که تا حال به اشکال و انواع مختلف ادامه دارد ، همه اساسات و نهاد هاي اجتماعي اداري ، سیاسي ، فرهنګي ، اقتصادي و ... ملك ما، تخریب و دیګر ګون ګردید و ضربه، خورد کننده یي بر پیکر وحدت ملي ما وارد و مرکزیت نظام دولتي و اداري کشور ما از بین برده شد که متاسفانه در این چهار سال اخیر اجانب متعصب و منفعت جو به این آتش خانمان سوز تیل بیشتر ریختند و شعله هاي آن را افروخته تر ګردانیدند تا توانسته باشند از آن منافع بخصوص مذهبي ، سیاسي و اقتصادي خود را بدست آرند .

ما یقین داریم که قلم بدستان و دانشمندان منصف ، حق بین و عارف به احوال کشور ما با ما همنوا خواهند بود که در شرایط کنوني مسئله یي اهم تر و مطرح تر از تامین وحدت ملي ، ایجاد مرکزیت و حاکمیت واحد دولتي در افغانستان دیګر مسئله یي از اولویتْ برخوردار نخواهد بود که با تکمیل شدن این پروسه عظیم تاریخي که ان شاء الله در شرف تکمیل شدن میباشد زمینه هاي مساعد تر براي سایر فعالیت هاي مستقل فرهنګي، کلتوري، سیاسي ، اقتصادي و ... در کشور بهتر و بیشتر مهیا خواهد شد و در آن وقت و هنګام ګنجایش خواهد داشت که به خواسته هاي معقول و مطرح ، اقشار مختلف کشور توجه لازم صورت ګیرد ، باید یاد آورد شد که از تذکرات ما چنین استنباط نباید شد که دولت اسلامي به سایر ضروریات مطرح فرهنګي ، کلتوري، علمي ، سیاسي، اداري در کشور اصلاً توجهي نه نموده باشد «کلا و حاشا» دولت اسلامي با امکانات نا چیز مالي ، فني و کمبود پرسونل متخصص قدم هاي در ابعاد و ساحات مختلف زندګاني اجتماعي مردم خود ګذاشته که اداره هاي قبلي با وجود امکانات بزرګ مالي که در اختیار داشتند به آن قادر نګردیده بودند ، دولت اسلامي با اعتقاد به اصل «دعوت و امر به معروف و نهي از منکر» در سایه شریعت و حفظ ارزش هاي اخلاقي ، عنعنوي و منافع ملي کشور خود به آزادي رشد و انکشاف مطبوعات مطابق به ایجابات عصر و زمان ارزش بسي بزرګ قایل میباشد . اما وضع کم و بیش محدودیت هاي اخیر بر مطبوعات به اصطلاح «آزاد» کشور که از روحیه تحزب و ګرایش هاي مختلف فکري ، ذهني، سیاسي ، قومي، مذهبي و ... برخوردار بودندیك ضرورت عیني اجتماعي و انقلابي بود که دولت از وضع آن ناګذیر بود ، زیرا با القاء و تبلیغ افکار و نظریات مختلف مذهبي، فکري ، حزبي، قومي در میان افراد ملت ضربه، بسي بزرګ بر شیرازه، وحدت ملي ما که متاسفانه در این سالهاي اخیر خیلي صدمه پذیر ګردیده بود وارد آمده و مانع بسي بزرګ در راه پروسه (ایجاد و تأمین نظام واحد مرکزي) در کشور که اشد ترین ضرورت فعلي جامعه ما بوده به میان مي آورد که محبین وطن و آرزو مندان سالمیت ، تمامیت ، استقلال و حاکمیت ملي در کشور هیچګاه آنرا نخواهند پذیرفت و ضرورت وحدت ملي و تأمین مرکزیت را بر آزادي به اصطلاح مطبوعات آزاد در شرایط کنوني همه جانبه ترجیح خواهند داد و همه استعداد هاي خود را در راه بر آورده شدن این مأمول بکار خواهند ګرفت .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah HaniG,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar